**رښتینی اختر او دایمي سوله زموږ په خاوره کې د امریکا او لودیځ د فکري، سیاسي، اقتصادي، نظامي او استخباراتي جرړو په ایستلو سره شوني دي**




د حزب التحریر- ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر، د نېکمرغه عید الاضحی د رارسېدو له امله له کابله تر غزني، له ننګرهاره تر بیت المقدسه، له حرمینو شریفینو تر جاکارتا او هېر شوي اندلسه د نړۍ ټولو مسلمانانو، په ځانګړې توګه د افغانستان مسلمان، مجاهد، زړور او مظلوم ولس ته د زړه له کومې مبارکي وايي او د عزیز او حکیم الله دربار ته د دعا لاسونه لپه کوي ترڅو زموږ ټولو طاعات، عبادات، حج، روژه، مالي او ځاني قربانۍ په خپل دربار کې قبولې کړي.

سږ کال عید په داسې حال کې راورسېد چې د امریکا په رهبرۍ د افغانستان د استعمار ۱۷ کاله تېرېږي او د هرې ورځې په تېرېدو سره د تررور، وحشت، ویني تویوني، تباهۍ، وژني او هوایي بمباردونو لمن پراخوالی مومي. امریکایان او په افغانستان کې د هغوی لاسپوڅې دولت د خپل همېشني عادت له مخې هڅې کوي، ترڅو د «سولې پروسه» ډېره لویه او خلکو ته په زړه پورې وښیي او د عامه افکارو پام له مشروع او بنسټیزې حللارې څخه ناروا او موقتي حللارو ته ورواړوي او د تېر په څېر یو ځل بیا د خلکو په سترګو کې خاورې اچوي. حال دا چې د «سولې پروسه» په حقیقت کې امریکایي غوښتنو ته تسلیمېدل او د معاصر طاغوت ناروا شرایطو ته سر ټیټول دي، چې په ټوله نړۍ کې د ملکي وګړو په وژنو، جنګ جګړو او بېلابېلو ناورینونو کې د هغوی ناپاکه لاسونه ککړ دي.

په افغانستان کې ریښتینی عید او دایمي سوله هغه وخت راتلای شي چې د ښکېلاکګرو کثیفه څېره چې د «بشري او نړیوالو مرستو» تر شا یې له خلکو پټه کړې، په واقعي بڼه و پېژندل شي. د ستراتیژیک او امنیتي هوکړه لیکونو ترخه ونه له بېخه راوایستل شي او له دې لارې د هغوی فکري، سیاسي، اقتصادي، نظامي او استخباراتي نفوذ له منځه یوړل شي. له دې پرته هره بله حللاره، موږ له لاډېرې تباهۍ او ستونزو سره مخ کوي، یوازې د بیړنیو او موقتي حللارو ښکار کیږو او په پای کې به مو برخلیک په ناورین پسې د بل ناورین پیل وي.

**د حزب التحریر- ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**